## د تدارکاتو اعلان

**پروژه :**<u>د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لپاره د لپټاپ او ډسکټاپ کمپیوټرونو چمتو او تدارک کول.</u>

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره :** DAB/1405/NCB/G09

د افغانستان بانک ریاست ټولو هغو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې **د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لپاره د لپټاپ او ډسکټاپ کمپیوټرونو چمتو او تدارک کولو** په داوطلبۍ کې ګډون وکړي.

لیواله داوطلبان کولای سي د شرطپاڼې سافټ کاپي د افغانستان بانک له ویب پاڼې (www.dab.gov.af) او د ملي تدارکاتو ادارې له ویب سایټ (https://tenders.ageops.af) څخه ترلاسه کړي.

داوطلبان مکلف دي خپل آفرونه د شرطپاڼې له شرایطو سره سم، په مهر او لاک شوې بڼه، د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه د **1405/05/10** نېټې، د **شنبې** ورځې د سهار تر **۱۰:۰۰** بجو پورې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت، چې دکابل په پښتونستان واټ کې واقع دی وسپاري. له ټاکلي وخت څخه وروسته رسېدلي او همدارنګه آنلاین آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانیستلو غونډه د **1405/05/10** نېټې، د **شنبې** په ورځ د سهار په **۱۰:۰۰** بجو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت، چې دکابل په پښتونستان واټ کې واقع دی ترسره کیږي.

**یادونه :**د داوطلبۍ مخکنۍ غونډه د **1405/04/31** نېټې، د **چهار شنبې** په ورځ د سهار په **۱۰:۰۰** بجو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت، چې دکابل په پښتونستان واټ کې واقع دی ترسره کیږي.

**همدارنګه، د ملي تدارکاتو محترمې ادارې د ۱۴۳۸۷ شمېرې متحدالمال او د ۱۴۴۷/۰۸/۱۷ هـ.ق نېټې د لارښوونې له مخې، د آفر تضمین په نغدي او بانکي بڼه لغوه شوی دی. له همدې امله، ټول داوطلبان مکلف دي چې د آفر د تضمین پر ځای، د آفر د تضمین د اظهارنامې فورمه د شرطپاڼې د نورو اړوندو فورمو ترڅنګ په بشپړه توګه ډکه، لاسلیک او مهر کړي او د خپل آفر سره یې وړاندې کړي.**